چمتو والي کچه

# سپوږمۍ او خولۍ



**ليکوال:** : روهیني نیلیکاني
**انځورګر:** انجي او یوپیش

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



مونږ ټول د اختر مېلې ته ولاړو.



پلار مبشر جان ته ښایسته عینکې وپېرلې.
مور ما ته یوه ځلېدونکې بانجاني خولۍ وپېرله.
کمکۍ له بورې جوړه خوږه ترلاسه کړه.



د کور پر لار، يو ډېر قوي باد راغلی. باد زما خولۍ والوزوله.



زما خولۍ د یوې زړې پیپل ونې په څانګه بنده پاتې شوه.



ما ډېر وژړل.
او ما د ماښام خپله ډوډۍ هم و نه خوړله.



په هغه شپه ناوخته، سپوږمۍ راوختله.
دې په زړه پیپل ونه کې ما خولۍ ته وکتل.



سپوږمۍ زما په خولۍ هڅه وکړه.
سپوږمۍ په خوښۍ سره وخندل.
زه هم اړ شوم چې وخاندم.




بله ورځ له ښوونځي وروسته، مور مې راته یوه ځلېدونکې نوې سره خولۍ راکړه. ”دا سپوږمۍ
رالېږلې ده،“ هغې راته وویل.



هاغه شپه، ما او سپوږمۍ دواړو خپلې خپلې خولۍ په سر کړې وې او خاندل مو.
مونږ خوښ وو.



آیا تاسې فکر کوئ چې لمر خولۍ ته اړتیا لري؟



اټکل وکړئ چې ما نن کومه خولۍ په سر کړې ده!

## لاربښودونکي پوښتني

1. دغه کورنۍ چیرته تله؟
2. باد څه کول؟ شنه خولۍ چیرته بنده پاتې شوه؟
3. ولې سپوږمۍ او هلک په پای کې ډیر خوښ وه؟ کوم شی تاسو خوشحاله کوي؟
4. آیا غواړئ په یوه لمریزه ورځ خولۍ واغوندئ؟
5. د کتاب په هر مخ کې هلک څه احساس درلود؟ خوښ؟ زړه نا زړه؟ حیران؟ ناخوښ؟ تاسو څه وایاست؟ ولې تاسو داسې فکر کوئ؟ آیا تاسو ته داسې کوم خپل احساس در په یاد دی؟